AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

یونس نګاه

۲۰۲۲/۰۴/۲۳

# د طالب مشرانو دوکه

## (له لوېدیځه چې موږ ته څه پاتي ښه، خو خلکو ته ورپاتي څه ناوړه دي)



ډالر، لنډکروزر، مېز، فرنیچر، د لوېدیځ او متحدانو په پیسو ابادي ودانۍ، وزارتونه او ریاستونه چې د مدرن دولتولۍ حاصل دي، دا توکي د لوېدیځ رنګ لري که ښوونځي ته تلل، پر واکمن نیوکه، د حق تروړلو پر وړاندې اعتراض؟ هغو کسانو چې نن سبا د خلکو خولې تړلې دي او د پردي فرهنګي نفوذ ضد او له فساد سره د مبارزې په پلمه یې د خلکو پر مخ د ازادۍ کوچنۍ کړکۍ هم تړلې؛ خو پخپله یې د لوېدیځ پر مالي، دولتي او اداري میراثونو منګولې ښخې کړې دي. هغوی د خلکو ترمنځ پاکي، ظرافت، خوښي او خوند د «سمون» په نامه ځپي. تازه په ښوونځیو او پوهنتونونو کې یې د نېکتایۍ پر تړلو هم بندیز ولګاوه؛ خو د دغې ډلې غړي د ملي اردو جامې چې لوېدیځ یونیفورم دی او د بهرنیانو په مرسته په لوېدیځو کارخونو کې جوړې شوې دي، اغوندي او د هغوی ټوپک او ټانکونه یې د ځان کړي دي. د طالبانو د دغو دوو دریځو ترمنځ تناقض، هغه څخه چې ځان ته غواړي او هغه څه چې ولس ته غواړي، ورځ تر بلې په ډاګه کېږي.

د ۲۰۲۱ د اګست په وروستۍ نیمايي کې د طالبانو پر بیا واکمنېدو خلک هېښ شوي وو او د طالب ځواکونو عکسونه لاس په لاس کېدل، چې ښار، کوڅې او دولتي اداري یې یو په بل پسې نیولې، تر څو ووینې، چې دا ډله هماغه شل کاله مخکینۍ ډله ده که بدله شوې ده. په دې عکسونو کې د طالبانو دوه اړخونه لیدل کېدل. یو هغه چې په دوحه کې د مذاکراتو په لړ په بیا بیا رسنیو ته څرګند شوي وو، سپینې جامې، تور واسکټ، تور پټکی او څپلۍ یا نوي بوټان یې اغوستي وو او ډېرو یې لمر نه وو لیدلی او څرب وو. دوی چې کله کابل ته هم راستانه شول، له خوړو په ډک دسترخوان کېناستل، په تورو ښیښو موټرو کې سپاره شول او د مشرتابه تر څوکیو شا ته کېناستل. خلکو دوی د اشرافي چلن له کبله نقد کول. په بیا بیا رنګین دسترخوانونه یې د خلکو د ژبې ورد شول. د طالبانو بله ډله هغه وه، چې جړ وېښتان یې لرل، په حیرانو سترګو ښار ته دننه شول. دوی د طالب مشرانو په شان یونیفورم نه لاره، عجیبې جامې او واسکټونه یې کله کله اغوستل، چې ډېرو هېوادوالو ته ناآشنا وو.

دغو توپیرونو دا خبره په ډاګه کوله، چې طالبان سره له دې چې د فساد، ماده پالنې او تجمل پر ضد تبلیغات کوي، بیا هم یو نظامي – سیاسي ډله ده، چې وروستۍ موخه یې واک ته رسېدل دي.

طالبانو په دې بهیر کې پر خلکو د لوېدیځ فرهنګ د له منځه وړلو لپاره او د اسلامي سنت او افغاني کلتور د دودولو لپاره پراخ بندیزونه ولګول. پوهنتونونه، ښوونځي او رسنۍ یې تر ولکې لاندې راوستلې او د «سمون» په نامه طالبانو پر هغوی پراخ بندیزونه ولګول. د طالبانو د لوړو زده کړو وزیر په بیا بیا د پوهنتون د استادو د بې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ارزښتۍ خبره وکړه. منځني ښوونځي او لېسې د نجونو پر مخ بندې شوې. د پوهنتونونو ټولګي د جنیست په دلیل سره بېل شول، د ښځو تګ راتګ محدود شو او رسنۍ د تفریحي خپرونو له خپراوي را وګرځول شوې. ټوله هغه املاک، سیستمونه او تسلیحات چې له پخواني حکومت او بهرنیانو پاتې وو، طالبانو پرې خېټه واچوله، تفکیر یې نه کړل، ځکه په دې سره دوی خپل دوام ته سترګې پټې کړې دي او د فردي او ډله ییزې شتمنۍ په توګه یې کاروي.
په سیاست کې دا تناقض ناآشنا چاره نه ده. خو هلته چې سیاستوال د دین تر شا پټ نه وي او د نیوکې، خبرو اترو او نقد لاره پرانیستې وي، د سمون شونتیا خلکو ته هیله ورکوي. په اوسني وضعیت کې طالبان د دین په سوټې خلک چوپتیا ته مجبور کړي دي. دا دوکه کوونکی سکوت واکمنانو ته پر ځان باور او د اوضاع کنټرول ته لار هواروي. خلک د قناعت په سبب نه دي غلي شوي؛ بلکې د وېرې له کبله یې پر خولې برغولی اېښی دی. خلک پر هغو فرمانونو چې د ولس ازادي محدودوي او د کار او زده کړو حق ترې اخیستل کېږي، ظاهراً چې ځان د دین حافظ هم ګڼي، شکمنېږي او له ځانه پوښتي، چې په کوم دین چې باورمن یو، په رښتیا د طالبانو له فرمان سره نږدېوالی لري؟ موږ تر دې دمه غولېدلي وو یا که اوس غولېږو؟ د خلکو په ذهنونو کې داسې پوښتنې چې څو نسله له جهادي روایتونو سره رالوی شوي دي، سیاستوالو ته دا چانس په ګوتو ورکوي، چې نوی دام کېږدي؛ خو تر ابده دا دام نه غځېږي. خلک د واکمنو چارې معیار ګرځوي او پر چل او دوکو پوهېږي. د متروکو، زندانونو او فزیکي حذف له لارې چې مستقیم او نامستقیم کوم فشار پر ولس تحمیلېږي، د لنډې مودې په مخه به ملت غلی شي؛ خو دا چوپتیا ډېره دوام نه کوي. ستړی ولس به یوه ورځ سکوت ماتوي.
سکوت یې په ځلونو مات کړی دی. په واقعیت کې زموږ تاریخ له شور او سرغړاویو ډک دی. په بیا بیا ولس د استبداد پر وړاندې درېدلی دی. د افغانستان په معاصر تاریخ کې ګویا داسې څرخ واکمن شوی، چې خلک په بیا بیا صفر ټکي ته په شا ګرځوي. د دغه څرخې چورلیز ارتجاعي او سیاسي اسلام دی. خلکو لا هم له سیاسي اسلام سره خپل حساب کتاب نه دی پاک کړی. خلک لا هم د سیاست او عبادت ترمنځ پر تفکیک نه دي پوه شوي او مذهبي دلالانو له دغې تشې تل ګټه پورته کړې ده.
دا ځل د طالبانو حضور څرګند دی او د رسنیو په مرسته د طالبانو د کړنو او سیاستو ترمنځ تناقض روښانه شوی دی. هیله کېږي، چې خلک له دغه ترینګلي حالت څخه د ډموکراتیک او ولسي حکومت جوړولو لپاره ارزښتناک او تاریخي یادداښتونه ولیکي، چې بیا د مذهبي دلالانو په لاس د افغانستان پر مومن ولس د منځنیو پېړیو بندیزیونه پلي نه شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ